مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین ۲۰۲۶/۰۸/۱۸

# د ولسونو ملاتړ د نظام بقا ده

ولس او نظام یو د بل بشپړونکي دي، ولس د هېواد بنسټ او نفوس جوړوي، نظام د هغې د اداري او نظم له پاره حاکم او اداره کوونکی ځواک دی. د یو قوي، سوکاله او پرمختللي هېواد له پاره د ولس او نظام ترمینځ نږدې همکاري، متقابل احترام او پیاوړی یون اړین دی. ولس د قانون په منلو او د ثبات په ساتلو کې له نظام سره مرسته کوي او نظام د ولس د امنیت، هوساینې، ټولنیزو اړتیاوو او اسانتیاوو برابرولو مسؤلیت لري. د ولس او حکومت ترمینځ واټن کمول، هېواد د پرمختګ لوري ته بیایي او د نظام بقا تضمینولی شي.

په یوه ټولنه کې نفاق، قومي او سیمه‌ایز تعصبات، د یوې ټولنې اصلیت او ثبات له منځه وړي، برعکس ملي‌یووالی بیا د ټولنې د ژوند بقاء، د وګړو د سالمو حقوقو نه دفاع، د حق او باطل ترمنځ تفکیک او د ټولنې پرمختګ ته لاره هواروي. تشنج، افراط اوتفریط که د نظام یا ولسونو له لوري ترسره کېږي؛ دغه وضعیت ډېر ژر د ولسونو او هم د نظام حرکتونه او فعالیتونه ګواښمنولای شي. تېرو تاریخونو جوته کړې، هغه ولسونه چې په نړۍ کې په اتفاق او اتحاد د ځان د پایښت په موخه نظامونه جوړکړي او قوانین یې وضع کړي او د عملی کولو په لار کې یې ګامونه اخیستي دي، د هوساینې ژوند یې په برخه شوی دی.

اساسي قانون د یو هېواد تر ټولو لوړ او تر ټولو مهم سند دی، چې د دولت بنسټونه، د واک درې‌ګونې قواوې (مقننه، اجرائیه او قضائیه)، د خلکو اساسي حقونه او د حکومت او ملت ترمنځ اړیکې تنظیموي. نور ټول عادي قوانین باید د همدې قانون په چوکاټ کې جوړ شي او خلاف یې د ولس او نظام تر مینځ ستونزې را جوړولای شي.
اساسي قانون د راز- راز ټولنو، نړیوالو بنسټونو، خپلواکه هېوادونو او کمپنیو سره د متقابلو اړیکو، همکاریواو ډیپلوماتیکو چارو د پراختیا لار پرانیزي او د نړیوال تعامل او اړیکو ضمانت کولای شي.

په خواشینی سره چې زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د تېر تاریخ په ټولو دورو کې که چېرې اساسي قانون شتون هم درلود، د عملي کولو او تطبیق کچه یې خورا کمزورې او د ولسونو په ګټه ترې استفاده نه ده شوې، چې په نتیجه کې د نظام او ولسونو ترمینځ یې واټن ته لار هواره کړي او د هېواد د بېرته پاتې کېدو، د نظامونو د کمزورتیا او پرزیدو علت ګرزیدلي دي.

د ورستیو پنځولسیزو بې ثباته او چټک بدلیدونکو حکومتونو د نورو عواملو تر څنګ اساسي لامل د ولسونو اړتیاوو، غوښتنو، مشورو ته نه پاملرنه او د قانوني مشروعیت د نه لاسته راوړلو لامل یادولای شو.

په یادو حکومتونو کې چې د استعماري قدرتونو او حریصو ګاونډیو د لاسوهنو له امله قومي، مذهبي او سیمه‌ایزو تعصباتو ته چې د یوې ټولنې د له منځه وړلو باعث ګرځي، په لوی لاس لمن ووهل شوه، دغه ملي نفاق چې زړی یې انګریزي استعمار کرلی و، د شوروي د استعماري یرغل وروسته ورته ډېر پراخ کار وشو، شوروي استعمار په اسلامي تنظیمونو کې د حکمتیار، رباني، مسعود تر مینځ د نفاق اور ته لمن ووهله او په سیاسي اړخ کې د خلق او پرچم تر مینځ د یو بل د وژلو تر کچې زهر وروشیندل، د دغو دواړو دورو حکومتونو خپل ټول عمر په خپلمنځي اختلافاتو کې سره تېر کړ، یووالی یې هېر کړ، په خاص ډول د اسلامی تنظیمي ګروپونو په حکومت کې د دوي د نفاق او تعصباتو له امله د هېواد ټول هست او بود تالا ولا شول، د هېواد مرکز کابل په کنډوالو بدل شو (۷۰۰۰۰) بې ګناه انسانان یوازې په کابل کې ووژل شوول، همدا و د دغو حکومتونو غیر منصفانه سیاستونه او له ولسونو سره د بې تفاوتی او عدم مشروعیت نتیجه.
د امریکایي استعمار په شل کلنه دوره کې د قومی تعصب او نفاق نوی فصل پرانستل شو امریکایانو د هېواد په مختلفو قومونو کې خپل جاسوسان او په ډالرو خرڅ شوی نوکران وروزل، پیاوړي یې کړل دولتي واک او نظام یې داسي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

متفرق کړ، چي د هرقوم روزلی امریکایي جاسوس او د هر ولایت والي په خپلسرجمهور رئیس شو، د دولت اداره او نظام تیتوپرک شول، ټول مشران او دولتی چارواکي د خپلو شخصي او امریکایي ګټو د لاسته راوړلو په لار کي ولس هېر کړ، د ولس دغه واټن او نور ځني عوامل د دې علت وګرزید چي طالبانو ته بیا د حاکمیت د لاسته راوړلو چانس یي اسانه شي

دا یو حقیقت دی چي د داکتر نجیبالله د حاکمیت په وخت کي په نظامي ډګر کي افغانستان د اسیا په کچه یو ستر نظامي ځواک و، مګر بیا هم د نورو ټولو بهرنیو عواملو تر څنګ، د پرچم د خپلمنځی اختلافاتو او د دوي د نظام سره د ولس واټن هغه لاملونه دي چي له ماتي او نابودئ سره مخ شوول.

ایا همدا ولسونه نه وو، چي د ډاکتر نجیبالله د حکومت تر سقوط وروسته یي د تنظیمي حکومت نه ــ سره له دې چي د پاکستان د ای اس ای پر اوږو سپور هېواد باندې وتپل شو ــ ملاتړ ونه کړ او د تکبیر چیغي یي ونه وهلی. خو لکه د مخه چي هم ورته اشاره شوې، کله چي ولسونو د دوی تر مینځ شرو ــ فساد، پاټک سالاري، چور چپاول او په سلګونو نوري منفي پدیدي چي په ویلو یي انسان شرمېږي تر سره شوي، څنګه بیا همدغه ولس چي لومړی یي د تکبیر ناري ورته وهلی، مګر بیا یي داسي مخ ترې واړوه چي، د طالبانو لومړیځل راتګ نه یي دومره ملاتړ او ښه راغلاست وکړ چي په ټول هېواد کي حتی د چا غاښ هم ویني نه شو.

درنو لوستونکو تېرو پېښو ته په اشارې سره یو ځل بیا د تیرو پیشنهادي مقالو تر څنګ می چي خپرې کړي دي، یو ځل بیا د نظام اوسنیو چارواکو ته دوستانه وړاندیز کوم، چي هېواد په ډېرو حساسو شیبو کي قرار لري، نو څکه د نورو ټولو چارو تر څنګ د ولس د رضایت او له نظام نه د ملاتړ په خاطر دقیق سوچ په کار دی او دغه چاره باید د نظام او حکومت په لومړیتوبونو کي تر نظر لاندې ونیول شي او عملي ګامونه ورته واخستل شي.

د ولس د غوښتنو او اړتیاوو د خوندي کولو، د لا نور واټن د مخنیوي او د کورنیو او بهرنیو دوښمنانو د مهارولو له پاره لاندې ټکي د پاملرني وړ دي:

۱ــ د لویي جرګي رابلل، په جرګه کي د داخلي مشروعیت تر لاسه کول، د پاکستان د تیریو او دښمنانه سیاست په هکله د جرګي نظر اخیستل، د اساسي قانون د مسودې د جوړولو له پاره مسلکي کمیسون جوړول.

۲ــ د نظام د پنځمي کلېزې په ویاړ د نجونو د ښوونځیو پرانستل، البته د یو منظم اسلامي یونفورم په لرلوسره، ښځو ته د کار او معشیت شرایط برابرول.

۳ــ په نظام او حکومت کي پاکو، سپېڅلو مسلکي شخصیتونو ته د کار زمینه او شرایط برابرول.

۴ــ د متقاعدینو د حقونو د اداکولو له پاره لارې چارې لټول او عملي کار تر سره کول.

۵ ــ د دولت د غصب شوو ملکیتونو او ښارګوټو د استرداد په مرحله کي په کورونو کي د اوسیدونکو په مورد کي داسي قانوني تعامل تر سره کول چي د اوسیدونکو د نارضایتونو مخه ونیسي، تر څو چي د هېواد د دښمنانو ښکار ونه ګرزي.

۶ ــ یو بل مهم لامل چي د هېواد تېر نظامونه یي کمزوره او پرزولی دي، هغه د نظام د چارواکو تر مینځ نفاق، نه همغږي او یو د بل معقولو غوښتنو او نظرونو ته نه پاملرنه یادولای شو. چي د نه پاملرنو په نتیجه کي ستر او زیانمن وضعیت رامینځته کولای شي.

۷ـ دفاعی او ټول نظامي سیستم، پیاوړی کول، د هېواد پولي، کرښي او سرحدات د جدي کنترول او نظارت لاندې ساتل تر څو د مغرضو ګاونډیو هېوادو د شومو موخو، مخه ډب شوي وي.

۸ ــ په هېواد کي د اوسني حساس وخت په نظر کي نیولو سره د ولس په هکله د بي موردو پارونکو فرمانونو درول او پر ځای یي په هېواد کي جدی کنترول او د مشکوکو عناصرو نظارت ته پاملرنه ساتل.

۹ ــ د هېواد میډیایي او تبلیغاتي سیستم په جدي توګه فعال ساتل او د هېواده نه بهرهسي په نوم درغجنو جبهو د دروغجنو تبلیغاتو په هکله ولس ته سم او دقیق معلومات وخت په وخت ورکول.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ